

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: د ټولو عملونو اعتبار په خاتمه سره دئ.

(رواه المسلم)

طلوع افغان

د امتياز څښتن:

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

پخچ خبري

امام غزالي (رح):

کبرجن څلور خاصيتونه لري:

١- سلام نه اچوي.

٢- حق خبره نه کوي.

٣- په لاره کي تر نورو مخکي ځي.

٤- په مجلس کي لوړ ځای کي کښېني.



مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسيس کال: ١٣٠٠ لمريز، چهارشنبه ١٨/محرم الحرام/١۴۴۶ هـ ق، ٣/زمری/١۴٠٣ ل کال - ګڼه (٢١)

Wednesday 24-July-2024 Issue: 21

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست: د هر راز پانګوني هرکلی کوو او له پانګه والو سره به پوره همکاري وکړو

د ترکيې د سوداګرو پلاوي د اوبو او انرژۍ وزارت له سرپرست ملا عبداللطيف منصور سره په کتنه کي د ياد وزارت په پروژو کي د پانګوني په اړه خبري کړي دي.

باختر آژانس ته د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخي، په دې کتنه کي د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست يادو سوداګرو ته ډاډ ورکړی، چي په افغانستان کي د بېلابېلو سرچينو څخه د انرژۍ د توليد له پاره پوره وړتيا سته او اوسمهال په هيواد کي تر هر وخت د پانګوني له پاره ښه زمينه برابره سوې ده او څرګنده کړې يې ده چي ياد وزارت د اوبو او انرژۍ په برخه کي د هر راز پانګوني هرکلی کوي او له پانګه والو سره به پوره همکاري وکړي.



ترکي سوداګرو هم افغانستان ته د خپل راتګ موخه، له دې هيواد سره د سوداګري اړيکو پراختيا بللې او د اوبو او انرژۍ په برخه کي يې پر پانګوني لېوالتيا څرګنده کړې ده.

په سالنګونو کي ٢ بديلي فرعي لاري پرانيستل سوې

د ټولګټو وزارت سرپرست د هيواد شمالي ولايتونو ته د سفر په ترڅ کي د سالنګونو لويي لاري له کاري بهيره ليدنه کړې، په شمالي او جنوبي سالنګونو کي يې چمتو سوو بديلو (فرعي) لارو پرانيسته وکړه.

د ټولګټو چارو سرپرست وزير ملا محمد عيسی ثاني د فرعي لارو د پرانيستني په مراسمو کي ويلي، دغه وزارت د هيوادوالو د هوسا تګ-راتګ له پاره په شمالي او جنوبي سالنګونو کي بديله لاره چمتو کړې چي د اصلي مسير د کار په جريان کي مسافر وړونکي وسايط به پر فرعي لارو تګ-راتګ کوي او د سالنګونو لويي لاري د درو برخو (شمالي سالنګ، جنوبي سالنګ او دوشي-خنجان) له کاري بهير او کريش پلانټونو ليدنه وکړه او پلي کوونکو ټيمونو ته يې لارښوونه وکړه چي د يادي لويي لاري کار دي په غوره کيفيت، چټکتيا او د وزارت له پلان سره سم بشپړ کړي.

رسنۍ دي اسلامي ارزښتو او ملي ګټو ته په کتو خپل فعاليت وکړي

د خپرونو چارو معينيت سرپرست ويلي، رسنۍ مکلفي دي چي د هيواد ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو ته په کتو سره خپل فعاليت ته دوام ورکړي.

د رسنيزو سرغړونو د آرزونې کمېسيون ناسته د يکشنبې په ورځ د خپرونو چارو معينيت د سرپرست مولوي ضياءالحق حقمل په مشرۍ ترسره سوه.

د باختر آژانس د خبر له مخي، په دې ناسته کي د رسنيو د روان فعاليت او د رسنيزو سرغړونو په اړه هر اړخيزي خبري وسوې.

همدارنګه د خبريالانو او رسنيو له پاره د ملاتړ صندوق پر رامنځته کولو بحث او له رسنيو سره د مرستو پر انسجام ټينګار وسو. ۴مخ

له ښاره ٩١٢٣ متره مکعبه کثافات ټول او انتقال سوي دي

د کندهار ښاروالۍ وياند سيف الله عاصم باختر خبري آژانس ته ويلي، د ښاروالۍ اړوند، د تنظيف عمومي مديريت له لوري د تېرو دوو اوونيو په موده کي د يو منظم پلان له مخي، د ښار له بېلابېلو



ساحو ٩١٢٣ متره مکعبه کثافات راټول او تر ټاکل سوي ځای پوري يې انتقال کړي دي. ۴مخ

سوونو موټر چلوونکو ته لېسنسونه ورکړل سول



د کندهار د امنيې قوماندانۍ وياند مولوي اسدالله جمشيد ويلي، د ترافيکو مديريت له لوري د لېسنسونو د توزيع کورس چي څه موده مخکي دائر سوی و، ۴٢٩ تنو په کښې ګډون کړی وو، دوی ته ترافيکي ۴مخ

په سپين بولدک ولسوالۍ کي ميليونونه افغانۍ خساره رسېدلې ده



د کندهار اطلاعات او فرهنګ رئيس په سپين بولدک ولسوالۍ کي د وروستۍ اورلګېدني له ساحې ليدنه وکړه.

د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګاني د هنر او فرهنګ د آمر په ملتيا د شنبې په ورځ سپين بولدک ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې په کاکړانو منډۍ کي د تېري (جمعې) ورځي د اورلګېدني له ساحې ليدنه وکړه.

د اطلاعات او فرهنګ رئيس ۴مخ

د تاريخي پاڼو او قيمتي خاوري د قاچاق مخنيوی وسو



د کندهار ګمرک رياست مطبوعاتي مسئول شاکر عزيزي د يکشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، د بولدک سرحدي ګمرک کارکوونکو د يو لړ پلټنو په پايله کي د لس کېلو تاريخي اوراقو او ۵٢ کېلو ګرامه قيمتي خاوري چي په يوه صادراتي محموله کي پاکستان هيواد ته صادرېدلې نيولي دي او زياته يې کړه، چي په تړواې دوه تنه هم نيول سوي دي.

د يادوني وړ ده، چي د اسلامي امارت د نافذه قوانينو له مخي، د تاريخي او قيمتي توکو قاچاک او له هيواده د باندي خپلسري انتقال جرم او عاملين يې محکمو ته معرفي او مجازات کېږي.

له زرونو کورنيو سره ٢١٠ ميليونه افغانۍ نغدي مرسته وسوه



د کندهار د شهيدانو او معلولينو چارو رياست مسئولينو ويلي، د روان ١۴٠٣ ل کال د لومړۍ نيټي څخه بيا تر دې دمه يې د شهيدانو او معلولينو له ٣٨٠٠ کورنيو سره د ٢١٠ ميليونه افغانيو نغدي مرسته کړې، چي په دې ۴مخ

موړ ولي د خلکو له مجبوريت څخه ګټه اخلو؟!

بريالی "فيضي"

په عامو ورځو کي په سلمانيو کي د ويښتانو سمولو پر سر ۵٠ افغانۍ مزد اخلي، اما کله چي اختر ته درې يا څلور ورځي پاته وي، بيا دا بيه ٧٠ - ٨٠ افغانۍ ته پورته سي. همدارنګه په عامو ورځو کي مستريان د موټرسايکل پر پنچرۍ ٢٠ افغانۍ اخلي، خو د اختر په شپو او ورځو کي بيا دغه بيه ٣٠ افغانيو ته پورته سي، د پارکينګ بيه پر موټرسايکل ١٠ او پر موټر ٢٠ افغانۍ وي، اما د اختر په مناسبت بيا دا بيه يو - يو لسی او يا شل افغانۍ پورته سي.

اصلاً دا هر څه ته چي ګورو، دا معلومېږي، چي زموږ ډېری خلک د نورو د مجبوريت څخه ناوړه استفاده کوي.

دوی پوهېږي چي اختر نژدې دئ، دا زما ګيراک مجبور دئ، چي بايد ويښتان جوړ کړي، که هر څومره ګران هم وي، خو دی يې حتمًا جوړوي، ځکه دا يوه اړتيا ده. مستري پوهېږي چي د اختر شپې او ورځي دي، خلک په مېلو ځي، کله چي يې موټر سايکل پنچر او يا نوره خرابي وکړي، نو دی يې حتمي جوړوي، ځکه چي نور دوکانونه هم اکثره بند وي، د پارکينګ مسئول هم پوهېږي چي سبا يا بل سبا اختر دئ، خلک بازار ته په سوداوو پسي را وتلي دي، پر موټرسايکل په بازار کي نه سي ګرځېدلای او سودا نه سي کولای، نو راسه د پارکينګ (تم ځای) کرايه يو څه پر لوړه کړه.

دا زموږ د خلکو انصاف دئ! اوس نو بيا زموږ مسلمانۍ ته چي کښېنې، تر ځان ټينګ مسلمانان په دنيا کي نه وينو.

موږ اسلام منلی دئ، خو د اسلام په احکامو او اصولو مو ځان نه دی پوه کړی، د اسلام او مسلمان اوسېدلو په هدف مو ځان نه دی خبر کړی، موږ دا هېر کړي دي چي د بل حق خوړل څومره ستره ګناه ده، د بل د مجبوريت څخه د ناوړه ګټه اخيستني جواز موږ ته چا راکړی دئ؟

زموږ ټولنه عامه پوهاوي ته سخته اړتيا لري، زموږ خلک اړتيا لري، چي په دين سم پوه کړل سي، دا خلک پر دين سر ورکوي، خو سر يې نه په خلاصېږي، دا اړتيا سته چي ديني او عصري علم ته ډېره زياته توجه وسي، زموږ په ټولنه کي چي ترڅو بې سوادي له منځه ولاړه نه سي، موږ به تل داسي لالهانده، ستړي او در په دره يو.

زموږ خلک بايد پوه سي، چي اسلام يوازي په لمونځو، روژو او حجو نه دئ، ترڅو چي اخلاق سم نه کړو، خيانت او درواغ پرې نه ږدو، د خلکو د مجبوريت څخه ناوړه ګټه اخيستني ته د پای ټکی کښېنې نه ږدو، موږ کامل مسلمانان نه يو.



د طلوع افغان خبري

د سپین بولدک -چمن دروازې خلاصېدل به اسانتیاوې رامنځته کړي

پوره لس میاشتي وړاندي د پاکستان د هغه وخت مؤقت حکومت پرېکړه وکړه، چي پر سپین بولدک – چمن دروازه به تگ او راتگ تر دې وروسته په وېزه او پاسپورټ وي، د پاکستاني حکومت دغه پرېکړي دواړو غاړو ته د پر تو ولسونو پراخ او توند غبرگونونه را وپارول.

د پاکستاني حکومت د دغه ناسنجیده پرېکړي له امله دواړو غاړو ته په زرونو کسان بې روزگاره سول، دوی د پاکستاني حکومت د پرېکړي په وړاندي د اعتراض په شکل پرلت واچاوه، د دې پرلت اکثره غړي په چمن او سپین بولدک کي ځایي کارگر او پنډیان وو، چي په میاشتو– میاشتو یې کارونه بند او سختي بې وزلۍ یې وگاللې.

د بلوچستان د کورنیو چارو پخواني وزیر ملک عنایت کاسي تېره یکشنبه پرلتوالو ته وویل، د پاکستان حکومت پرېکړه کړې ده، چي د سپین بولدک – چمن پر دروازه به په تذکرې او شناخته کارډ باندي تگ او راتگ ته اجازه ورکول کېږي.

نوموړي صرف په شفاهي ډول دغه خبره پرلتوالو ته وکړه او په دې توگه یې د پرلتوالو پرلت هم پای ته ورساوه، خو عملاً بیا هم د دې پرېکړي د عملي کېدو هیڅ څرک نه لیدل کېږي.

که څه هم افغان حکومت تراوسه په دې اړه رسمًا څه نه دي ویلي او پر دغه دروازه تراوسه عملاً پر تذکره او شناخته کارډ باندي تگ او راتگ نه دی پیل سوی، خو بهتره به دا وي، چي دا کار عملي نتیجه ورکړي، افغان حکومت هم په دې برخه کي له پاکستاني حکومت سره همږغي وکړي، ترڅو پر دغه لاره یو واري بیا سوداگري د پخوا په څېر وغوړېږي او دا زموږ د ولسونو یوه اړتیا ده.

زموږ زیات زراعتي محصولات له همدې لاري د ډیورنډ فرضي کرښي هاغاړي ته اوړي.

دا چي اوس مهال په کندهار او نورو نژدې ولایتونو کي د گرمۍ موسم دئ، په دې موسم کي بېخي ډېري مېوې حاصل ته رسېږي، نو دا یو ډېر ښه اقدام گڼو، چي پر سپین بولدک– چمن دروازه تگ او راتگ د پخوا په شان جاري وساتل سي، ترڅو په دې سره به ان شاءالله زموږ حاصلاتو ته هم یو ښه بازار پیدا سي.

دا چي د اوس له پاره زموږ تجارت ډېر پراخ سوی نه دئ او لا هم زموږ ډېر تجارت له پاکستان سره دئ، نو باید ډېره هڅه وسي، چي له دغه هیواد سره نرمي اړیکي وساتل سي، ترڅو هر کال زموږ بزگر له تاوانونو ساتل سوي وي او په اوږدمهال کي دي کوښښ وسي، چي د افغاني محصولاتو له پاره د پاکستان بدیل پیدا کړل سي، ترڅو د دوی د انحصاري تجارت څخه خلاص سو.

اداره

په اسلام کي د وخت ارزښت

ترتیب کوونکی:
نامزد پوهنیار سیف الرحمن "سلطاني"

سریزه: د وخت په باره کي ویل کېږي: (سیف ان لم تقطعه قطعک).

ژباړه: وخت د توري په څېر تېره دی، که یې پرې نه کړې، نو تا به پرې کړي.

عالمان وایي: د وخت ضایع کول، د هلاکت لویه نښه ده.

امام شافعي (رح) فرمایي: ما له صوفیانو سره ملگرتیا وکړه، خو یوازي دوې خبري مي ځني زده کړې: یو دا چي وخت د توري په څېر دئ، که یې پرې نه کړې، نو تا به پرې کړي او بل دا چي که ځان دې پر حقه لاره بوخت نه کړ، نو په باطله به اخته کېږې!

موږ مسلمانانو ته لازمه ده، ترڅو د وخت څخه په صحیح توگه استفاده وکړو او خپل وخت بې ځایه مصرف نه کړو.

په اسلام کي د وخت ارزښت:

که څه هم د وخت ارزښت یو کوچنی عنوان دئ، خو د معنی په لحاظ بیا زیات اړخونه لري. هغه داسي چي د وخت له فلسفیانو سره یو ډول ارزښت لري او له سوداگرو سره بل ډول ارزښت لري. همدارنگه له بزگرانو، سیاست پوهانو، جنگیالیو، ځوانانو، سپین ږیرو، زده کوونکو، عالمانو او پوهانو هري یوې ډلې، له خلکو سره بېل – بېل ارزښتونه لري. بې له شکه وخت ډېر قیمتي دی، په سرو زرو، مالونو او گاڼو سره نه حسابېږي. د دې حقیقت له امله چي گران شی موندل کېدای سي، په لنډ یا اوږد وخت کي ترلاسه کېږي، مگر د ضایع سوي وخت بدل بیا نه سي ترلاسه کېدای. که څه هم په امریکا او بهرنیو هیوادونو کي ځیني ساینس پوهان په دې نظر دي چي وخت سره زر دی، دوی وایي: Time is Gold، خو نور پوهان په دې خبره متفق دي چي وخت سره زر نه دئ او هیڅ بدیل نه لري.

وخت تر ټولو غوره او قیمتي شی دی چي انسان یې لري، ځکه چي وخت د هر عمل او هري هڅي او هر څه چي انسان یې ترلاسه کوي، کانټینر دی، نو وخت په حقیقت کي د افرادو او ټولني دواړو له پاره رښتیني سرمایه ده.

د انسان په ژوند کي تر ټولو مهم شی چي ډېر ارزښت لري، وخت دی؛ کوم چي په حقیقت کي زموږ د ژوند جوهر جوړوي. د وخت ارزښت له دې څخه معلومېږي چي خدای پاک په قرآنکریم کي د (العصر) یا وخت په نوم سورة نازل کړ او د قرآنکریم په نورو ځایونو کي یې وخت او زمانو ته اشاره کړې ده. د قرآن شریف په ځینو ځایونو کي د هغه اهمیت د څرگندولو له پاره په هغه قسم یاد یې کړی دئ او همدارنگه په حدیثونو کي راغلي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

ژباړه: د قیامت په ورځ به له انسانه په عموم او په ځانگړې توگه له ځوانۍ پوښتنه وسي چي په څه ډول یې تېره کړې او ورته وبه ویل سي مخکي تر دې چي له بوختیا سره مخ سئ، خپل فراغت ته پام وکړئ.

دا ټول د وخت ارزښت او اهمیت څرگندوي، کوم چي په لنډه توگه بیان سوي دي. نو دا په موږ پوري اړه لري چي خپل وخت د تفصیلي پلان جوړوني په ډول، په سمه توگه وکاروو او اوس هم د اسلام په سپېڅلي دین کي وخت ډېر مهم مقام او کرامت لري.

په اسلامي ارشاداتو کي وخت ډېر مهم دی. لکه څنگه چي رب العالمین جل جلاله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته د وخت د اهمیت په اړه هدایت او لارښوونه کوي.

یو شخص کولای سي په مناسبو فرصتونو کي د وخت او وخت وړ کړنو ته ژمن وي. د وخت لږ غفلت فردي او اجتماعي ژوند ته خطر پېښوي او د ټولني د تباهۍ له پاره اسباب او وسیلې برابروي او پېړۍ – پېړۍ شاته اړوي.

زموږ گران اسلام د وخت په ارزښت ښه پوهېږي. له همدې امله زیات فرضي ستر عبادتونه ورځ احاطه کوي او وختونه یې د ورځي له جریان سره موازي دي او لکه څنگه چي په اسلام کي پېژندل سوی چي جبرائیل علیه السلام د خدای تعالی له خوا نازل سوی، ترڅو د وخت پیل او پای بیان کړي. ژوند یې په دقیق ترتیب سره اسلامي لیکلی او د لمر ختلو بیا تر لمر لوېدو پوري یې ټولي دقیقې اندازه کړې دي.

الله تعالی د سورة روم په ۱۷ آیت کي فرمایلي دي:

ژباړه: کله چي تاسو ماښام ته داخل سئ یا سهار ته د ننوتلو په وخت کي د الله پاک ذکر وکړئ او د هغه له پاره په آسمانونو او مځکه کي او د ورځي په پای کي او کله چي غرمه وي، راځي.

راځئ که موږ د اسلام گران پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته وگورو، نو وبه وینو چي هغه خپل وخت څومره په کار اچولی و، په دې ډول یې د عبادت له پاره، د خوب، له ښځو سره د ملاقات، د خپلو کورنیو د اړتیاوو د پوره کولو، له پوهانو او عالمانو سره د ملاقات او د عامو خلکو له پاره یې ځانگړې وختونه ټاکلي وو او همدارنگه دا ویل کېدای سي چي د هغه په ژوند کي هیڅ وخت ضایع نه سو.

د مسلمانانو د پېړیو د پرمختگ تر ټولو مهم راز دا و چي خپل وخت په ښه توگه استعمال کړي.

د یادولو وړ ده چي امام طبري هیڅ نه لري، کله چي هغه خپل وخت په غیر ضروري توگه ضایع نه کړ، حتی کله به چي د حاجت له پاره تلی، نو له خپلي نوکري څخه به یې وغوښتل چي د تشناب دروازې شاته ورته تلاوت وکړي او په دې وخت کي به یې هم له علم څخه گټه پورته کړه، ما هیڅکله بې کاره نه دئ لیدلی، هر وار چي به مي ورته کتل، لوستل، لیکل.

پوهاند محمد قطب چي د معاصرو او سترو پوهانو څخه و، ویل یې هغه ورځ چي زه له ۱۰۰ پاڼو څخه لږ ولولم، فکر کوم چي بې گټې ده او په طبعي توگه هره ورځ له ۲۰۰ څخه زیاتي پاڼې لولم.

د علامه قرضاوي څخه هم پوښتنه وسوه چي د ټولو هغو مرستو سره چي هغه یې شاته پرېښوولې، د بریاد موندلو راز په اړه وپوښتل سو:

اوس هم د وخت د ارزښت او ارزښت په اړه ځیني مشهوري ویناوې پېژنم چي په لاندي ډول دي.

کله چي خلک وخت ته درناوی و نه کړي، دوی به د ژوند قدر و نه کړي، دا هغه څه دي چي تاسو یې په ژوند کي کوئ.

حقیقت دا دی چي ضایع سوی وخت بیرته نه سي راگرځېدلای او نه یې بیا پیل سته.

وخت او روغتیا دوه شیان دي، کوم چي باید په ژوند کي تر ټولو ډېر تعریف سي، له همدې امله په دې مقاله کي د وخت ارزښت په اړه، د ښکلي متن ټولگه، د وخت مدیریت، غوره او ښکلي جملې، د مشرانو خبري او متن د ټینگار له پاره راټولي سوي.

د وخت د اهمیت په اړه مشهور عالمان داسي وایي:

لقمان حکیم هم د زمانې په اړه وایي: چي د نن کار سبا ته مه پرېږده!

یعني د نن وخت مه ضایع کوه او سبا ته نور گټور کارونه کوه.

بنیامین فرانکلین ویلي: هغه څه هیڅکله تر سبا پوري مه پرېږدئ، هغه څه چي تاسو یې نن کولای سئ، د هري دقیقې له پاره چي تاسو په غوسه یاست. تاسو ۶۰ ثانیې خوښۍ له لاسه ورکوئ.

د یهودانو دسیسې

لیکوال: محمد یحیی خان

ژباړه: سمیع الله "درانی"
شپږشپیتمه برخه

د پارلماني نمایندگانو حیثیت، خو محضي د پاچا له پاره یو د ساتني ځای دئ، دغه د پارلمان خلک به هم پاچا منتخب کوي او د دوی حفاظت به هم پاچا پر غاړه اخلي، لېکن موږ به د دغو پارلماني نمایندگانو څخه د نوي قانون د جوړولو یا په زاړه قانون کي د ترمیم راوستلو حق هم واخلو، دغه حق به موږ صرف پاچا ته چي زموږ غلام دی، ورکړو.

دا طبعي خبره ده چي د پاچا اختیارات همېشه د خلکو تر سوال او تنقید لاندي راځي، نو موږ به د خپلو مفادو د ساتلو له پاره پاچا ته دا اختیار هم ورکړو چي هغه د عوامو غوښتنو ته لبیک ووایي او ځیني ور پوره کړي چي بیا به دغه بې خبره عوام زموږ د غلام پاچا د تقرر له پاره لاریونونه کوي او زارۍ به کوي چي دا پاچا مه لیري کوئ!

دغه ډول موږ پاچا ته دا حق ورکوو چي د پارلمان له کسانو سره بې له مشورې د جنگ اعلان وکړي، د هغه د جواز له پاره دا خبره وړاندي کوو چي د مملکت د ټول پوځ د مشر په حیث؛ باید پاچا دا اختیار ولري، ځکه د ضرورت په وخت کي به پاچا د نوي جمهوري قانون د نماینده په حیثیت د دې حفاظت کولای سي، اوس نو په دې پوهېدل اسانه دي چي په داسي حالتونو کي د خزانې کیلي به زموږ سره وي، بې له موږ څخه به بل یو طاقت هم د قانون جوړوني ته حرکت او قوت ور نه کړي.

پر دې سربېره به په نوي جمهوري قانون تېرولو کي د پارلمان د غړو څخه د سیاسي راز لرلو په ساتنه کي د سرکاري اقداماتو په تفصیل طلبولو او د سوالونو کولو حق بیرته واخیستل سي او د پارلمان د غړو تعداد به بې اندازې کم کړل سي، ځکه په دې سره په سیاسي جذبه کي سوړوالی راځي، که چیري د عوامو په جذبو کي سوړوالی نه راغلی، بیا به موږ د دوی پر خلاف سخت چلند وکړو او دوی به نېستي وگرځوو.

پاچا به والیان، ولسوالان ټاکي، هر څه واک او اختیار به د پاچا په لاس کي وي او په پارلمان کي به مجلسونه د متواتر منعقد کېدو پر ځای، څو میاشتو ته واړول سي، یعني پارلماني غونډه به د څو میاشتو مودې ته واړول سي چي بیا دوی زموږ پر خلاف، هیڅ مشوره لا نه سره وکړي، پاچا به هم بې غمه خپل عشقونه کوي، ځکه پلان، ترتیب او هر څه یې زموږ په لاس کي دي.

دا یې زموږ حکومت، د دوی په لاس پر دوی باندي یو غلام رهبر، ټول قوم د غلامۍ پر لاره روانولای سي. مثال یې داسي دئ:

– ټولشموله ریاست
– د نوي اساسي قانون جوړول
– د انقلابي قانون ځیني خصوصیتونه
– غیر یهود یا د پسونو رمه
– فرې میسنز، دعوامو د خطا ایستلو له پاره د اجتماع ځایونه جوړول

لکه څنگه چي ټولو ته معلومه ده، چي دولتي کونسل د اقتدار د تسلیمۍ له پاره تر ټولو مؤثره طریقه ده، خو زموږ په سیاسي نظام کي به دا طریقه صرف نمایشي یعنی د خلکو د لیدلو له پاره وي او بس؛ د نوي قانون په رڼا کي به موږ د حقوقو او د انصاف اصول په لاندي طریقو سره اختیا روو:

۱– د قانون او نورو امورو په باره کي به د قانون جوړوني ریاست ته مادې وړاندي کول کېږي چي تاسو یې را امضا کړئ، خو دا به هسي د عوامو د خطا ایستلو له پاره وي، هغه مادې به لا تر مخه لاسلیک سوي وي.

۲– د عامو قواعدو په نامه به، د پاچا او د پارلمان د غړو حکمونو ته د قانون نوم ورکول سي، دغه ډول به د وفاقي کونسل قراردادونه د وزارتي حکمونو په نامه جاري کېږي او هغه به د قانون غوندي حیثیت ولري.

۳– که مناسبه موقع پیدا کېدل، د هغې څخه په استفاده به په ملک کي انقلاب هم برپا کېږي چي د انقلاب څخه په استفاده به موږ نوی قانون وړاندي کوو، تر عامو کارونو وروسته به موږ په هغه اجتماعي کوښښونو مصروف کېږو چي د هغو په وجه موږ په یو ریاست کي انقلاب راولو، د دې کوښښونو په نتیجه کي به موږ د رسنیو آزادي، د انجمن جوړولو حق، د ضمیر آزادي، د رأیي ورکولو حق، دا ډول ډېري نوري آزادۍ به موږ د انساني ذهن څخه د غلط لفظ په توگه محوه کړو، ځکه دا یې ځای او موقع ده چي تاسو قانون جوړ کړئ، که انقلاب تېر سو، بیا تاسو قانون نه سئ جوړولای او یا نه سئ پلي کولای.

نور بیا...

د شیطان لښکر

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

(۵۹) برخه

د خوارجو نوې څېره (داعش)

شپږمه شبهه:

عدناني عدناني د "هذا ما وعدالله" په عنوان سره په یو ږغیز پیغام کې وایي: موږ ټولو مسلمانانو ته اګاهي او خبرداری ورکوو، چې د خلافت له اعلان سره سم، پر دوی ټولو باندې د خلیفه ابراهیم بن عواد بیعت او نصرت واجب دئ او نور ټول امارتونه، ډلې، هیوادونه او تنظیمونه باطل دي.

"من مات و لیس فی عنوقه– الخ" حدیث څخه د استدلال په مټ وایي: چې د خلافت له اعلان سره سم په ټولو نارینه او ښځینه وو باندې بیعت فرض سوی دئ او څوک چې بیعت نه کوي، نو هغه د امت له پخواني ارمان او خلافت سره بې وفایي کوي او د شهیدانو له ارمانونو سره خیانت کوي، ځکه چې هغوی خو خپل سرونه د خلافت له پاره قرباني کړي دي.

جواب: سره له دې چې د امت علماوو د خلافت مسائل، شرایط او احکام په پوره تفصیل سره بیان کړي دي، خو د داعش مفتیانو د خپل خلافت د جواز له پاره کمزوري، مرجوح او متروک قولونه باندې تکیه کړې ده. د بېلګې په توګه: ابو الهمام الاثري په خپل کتاب (مدو الایادي لبدعت البغدادي) کې د (الاحکام السلطانیه للماوردی) څخه د اهل الحل والعقد اړوند مرجوح او ضعیف اقوال را اخیستي دي، چې هغوته په کتو سره د اهل الحل والعقد په پنځو کسانو کې حتی پر یو کس هم خلافت منځته راتلای سي.

حال دادی چې د جمهورو په آند خلافت د ښار او سیمې له ټولو اهل الحل والعقد په اتفاق سره منځته راځي.

علامه ابن تیمیه رحمه الله لیکلي دي:

ژباړه: د خلافت د انعقاد له پاره د هغو ټولو خلکو په یوه خوله کېدل ضروري دي، چې هغوی زور لري، د خلافت له معاملې سره تړاو لري او د هغوی په وسیله د خلافت مقاصد پوره کېږي.

(منهاج السنت النبویه جـ۸ صـ۳۳۶)

سیدنا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمایي:

ژباړه: څوک چې د مسلمانانو له مشورې پرته له یو چا سره بیعت کوي، نو هغه خپل ځان او هغه څوک چې بیعت ور سره کوي، په دوکه کې واچول، ځکه هغوی دواړه ځان وژلو له پاره آماده کوي.

(فتح الباري جـ ۱۲ صـ ۱۵۰)

د عراق د خوارجو تر ټولو بد صفت دادی چې قرآني آیتونه او نبوي حدیثونه د خپل ځای پرته، په نورو ځایونو کې تطبیقوي، نو له دې نه به څوک انکار وکړي، چې د خلافت قیام پر مسلمانانو فرض دئ؟

چا داویلي دي چې له خلیفه سره بیعت واجب نه دئ؟

د الله تعالی د حکمونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پابند حکومت پیروي به څوک نه کوي؟

دا خو ټولي منل سوي خبري دي، ټول دا منو چې د خلافت بیا جوړول او قیام پر مسلمانانو فرض دئ، له خلیفه سره بیعت لازم دئ، د اهل بیتو عزت پر مسلمانانو ضروري دئ، خو پوښتنه داده چې آیا دا ټولي خبري په تاسو داعشیانو کې موجودې دي، که نه؟

امام المسلم په خپل سند سره حدیث راوړی دئ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

ژباړه: څوک چې په داسې حال کې مړ سو، چې په غاړه کې یې د شرعي امیر بیعت نه وي، نو هغه د جاهلیت په مرګ مړ دئ.

(کتاب الامارة)

داعشیان له دې حدیث څخه په استدلال له خلیفه سره بیعت لازم ګڼي، خو دا تحریف ځکه دئ چې له کوم امام او خلیفه سره بیعت واجب دئ، هغه هیڅکله هم د داعش بغدادي نه سي کېدلای.

علامه خلال د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه څخه روایت کوي.

ژباړه: د امام احمد بن حنبل رحمة الله څخه د پورتني حدیث معنی او مطلب وپوښتل سو، نو په جواب کې یې وویل: ته پوهېږې چې امام چاته وایي!؟

امام هغه څوک دئ چې ټول مسلمانان پرې متفق وي او ټول خلک ووایي چې امام دئ. همدا یې معنی ده.

یعني په حدیث کې د امام څخه مراد د مسلمانانو متفقه امیر دئ، د یو خاص تنظیم امیر مراد نه دئ.

نور بیا...

سرې څپېړې

قدرت الله رضوان

د کلي د جومات څخه د آذان ږغ پورته کېدی، ډېرو خلکو په جومات کې د ماښام د لمانځه انتظار کاوه، له باران سره تېز باد ملګري کوله، د جومات ناوې ډکې بهېدلې.

د آذان له ختمیدو سره سم د جومات امام او څه نور سپین ږیري جومات ته د ننه سول، تر جومات وروسته امام لا دعا ته لاسونه نه وه پورته کړي چې د جومات په دروازه څوک په تلوار را د ننه سول، ټولو خلکو د جومات دروازې ته وکتل، یو کوچنی او یوه ښځه په چادري کې ولاړ وو، د ښځې د چادري له څنډو د باران څرې اوبه څڅېدلې، د پښو د ګوتو سرونو یې په ختو کې پټ وو، تېز باران ټوله لنده کړې وه، تر لاس یې کوچنی ماشوم نیولی و.

په ژړغوني او رېږدېدلي آواز یې وویل: د خدای له پاره کمک را سره وکړئ، کوچنیان مې وږي دي، پلار یې سه موده مخکې وفات سوی، په کور کې څوک....

ښځې لا دا خبره نه وه پوره کړې چې د خلګو له منځه چا ور ږغ کړل:

–اجانۍ له جومات څخه د باندې ودرېږه چې د جومات فرش دې خیرن کړ.

ښځه په تلوار له جوماته ووتله او د جومات د دروازې مختـه کښېناستله، هغه ورځې یې ور پر زړه سوې چې خاوند یې ژوندی و او خوشحاله ژوند یې و. هغه لا پېغله وه چې کونډه سوله او ورته دوه یتیمان زامن پاته سول.

د باندې یخ باد چلېدی، باران هم ورسره ملګری و، د ښځې تر څنګ ناست کوچنی چې کله به یې د جومات پر دروازې ځړېدلې پردې ته کتل او کله به یې په آسمان کې خړې وریځې ته چې ډېره بېروونکې وه، کتل. هغه داسې احساس کاوه چې یخ باد ورته پر مخ یخې چپلاخې ورکوي، پر مخ به یې دواړه لاسونه ټینګ ونیول، شونډې یې وچې او چاودلې وې.

یو– یو کس له جوماته راوتی او یوه– یوه افغانۍ به یې ورکول، ترڅو چې د جومات امام او د کلي ملک له جوماته را ووتل. شپې هم خپلې بېروونکې وړانګې د مځکې پر مخ خپرې کړې وې. د کلي ملک په تلوار د جومات امام ته چپلکې سمې کړې. ښځې ته یې پام سو جېب ته یې لاس کړ، یو زوړ لسی یې را وکښی، ښځې ته یې ونیوی او په تند ږغ یې وویل:

زامن دې ښه مفت خوره آموخته کړل!

د ښځې بدن په دې خبره ولړزېدی، رڼو اوښکو یې پر مخ لارې جوړې کړې، په تلوار له ځایه ولاړه سوه، د چادري پر څنډه پرتې پیسې هوا ته پورته سوې او سوړ باد یوې او بلې خواته له ځانه سره یوووړې، ښځه په تلوار له جوماته ووتله او د کلي په کږو او ختینو کوڅو کې تر سترګو فنا سوله.

بې علمه ټولنه

هدایت الله "وهاب زوی"

په یو کلي کې یو سپین ږیری کس اوسېدی، چې ګلاب خان نومېدی. ګلاب خان که څه هم سواد لرونکی سړی و، خو سپین ږیرتوب یې حوصله صفر کړې وه.

دې سړي اته زامن لرل، چې مشر زوی یې عبدالقهار نومېدی، یو تکړه او ځیرک شخص و.

ګلاب خان چې د ځوانۍ سن یې ټول په مسافریو او کار کولو کې تېر سوی و، نور یې نو د ډوډۍ پیدا کولو له پاره د کار کولو توان نه درلودی او دا درونـد بار او مسئولیت یې د زامنو پر غاړه واچاوه.

د ګلاب خان مشر زوی عبدالقهار چې له پوهنتونه فارغ او یو تکړه انجینر و، د څه مودې له پاره په کور کې د وظیفې له پاره تم سو، مګر د وطن حالات او د وخت زورواکي امیران بیا هغه ستونزه وه، چې نه یې لیاقت پېژندی او نه هم انسانیت.

سپین ږیري ګلاب خان او کورنۍ یې چې اقتصادي حالت یې ډېر خراب او نورو خلکو ته یې هم کتل، وضع یې ښه ده، نو له خپلو زامنو یې وخت ناوخته شکایتونه او ګیلې کولې، چې کار نه کوي او د هیڅ خوا هم نه دي.

د ګلاب خان دې عمل کلیوالو او تربرونو ته داسې موقع په لاس ورکړه، لکه یوه وحشي لېوه ته چې په صحرا کې پوست کړي پسه په چمبو ورسي.

د ګلاب خان مشر زوی مجبور سو، چې ایران هیواد ته د ګټې کولو له پاره سفر وکړي او د کلونو مسافر سي.

څه موده وروسته ګلاب خان د ور پېښې ناروغۍ له امله مړ سو او هري خوا ته یې د زامنو او مېرمنې د ارمان اوسېلۍ او ژړاګانې تر غوږو کېدلې. کله چې ګلاب خان خاورو ته وسپارل سو، دلته نو نامرده کلیوالو او تربرونو د خلکو ترمنځ داسې آوازې خپرولې، چې ګواکې له دې سړي سره زامنو ښه ګذاره نه کوله او د خپلې مېرمنې او زامنو له خوا وژل سوی دئ.

حال دا چې داسې هیڅ کومه خبره نه وه.

شعر او آدب

د طلوع زرینې وړانګې

غزل

سعد محمد مینه وال

غرور دې پر پرده لیونیه راځه غاړه راکه!
بې له هجرانه ماښامیه راځه غاړه راکه

د انتظار سختي لحظې زمایې د خدای (ج) په امان
په خیر راغللې لالیه راځه غاړه راکه!

راځه راځه چې تاکې ښکلې محفلونه جوړ کړو!
د کلي ژړ مازیګریه راځه غاړه راکه!

ما دې په مینه د شپېلۍ خوږې نغمې واورېدې
د غره لمنه کې شپونکیه راځه غاړه راکه!

"**مینه وال**" ستا له غېږې وړې یار ته د ګلو ګېډۍ
رنګین– رنګین سه پسرلیه راځه غاړه راکه!

یو صوفیانه کلام

رحمت الله شهګار

د تقوا له بامه لوېږمه پر مځکه
ما تر لاس ونیسه پیره مبارکه

مسلسل د ګناهو ګرنګ ته لوېږم
زه اعما یمه له ما ده لاره ورکه

چې تېرې ختم سي داغونه د ګناوو
د اصلاح نظر مې یو ځل زړه ته وکه

تزکیه مې د نفس وکړه له امراضو
زما قلب ته خو یو ځل توجه وکه

چې اصلاح مې د ظاهر او باطن وسي
ما هم څنګه کې در سره مراقبه که

ستا مرید ناچار "**شهګار**" درته راغلی
ای مرشده! ته یې زنګ لري له زړه که

غزل

احمد بریالی

روغې د معتادو به توبې نه سي
پاته تر افطاره یې روژې نه سي

ورځ به د ژوندون سي ماز دیګر مګر
ختمې د ځوانانو به پلمې نه سي

نس وي د تنور همېشه سوړ ځکه
پښې به د خټګر په کښې تودې نه سي

خیال به له آزاره خوندي نه سي چې
څو پورې همدا خونه پردې نه سي

غله به پر همدې لاره راځي تر زړه
څو چې پر کندو ماتې پیالې نه سي

لاره د دښمن به وي همدا ترڅو
بندې په خارګیر دا کوڅې نه سي

پاته چې پر لمر د غرمې نه سې نو
دا شلومبې نرۍ ځکه تروې نه سي

خیال د "**بریالي احمد**" که ؤ مانده
هېرې به د ژوند کیسې ترخې نه سي

مسئول مدير: بريالی "فيضي"
د تصحيح مسئول: حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډيزاين: نصير احمد "صابر"
د مديريت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبيبي واټ-اطلاعاتو او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

د ګڼون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي خپرونه چي د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمريز کال په آخرکي د طلوع افغان تاريخي ورځپاني يو بشپړ ګلکسيون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپانه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنۍ بيه ۵۰۰- پنځه سوه افغانۍ، زده کوونکو او محصلينو ته د تصديق په وړاندي کولو سره نيمه بيه ټاکل سوې ده.
اداره

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، د ليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چي دا سپېڅلي پاني بې ځايه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 — ISSue: 21 — Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتياوي

زياتوونکي غواړي

دارزاقو امارتي شرکت خپل يو باب د بورې ګدام چي د ځوارلسمي ناحيې، د زړې عيدګاه شاته موقعيت لري او مساحت يې دوه زره متره مربع او پنځه زره متريک ټنه ظرفيت لري. د کندهار ولايت د (ضد حوادث) پېښو په وړاندي د چمتووالي او مبارزې رياست د مياشتي په مبلغ ۰/۳۰۰۰۰- دېرش افغانۍ په کرايه ورکوي. که يې دولتي ادارې، مؤسسې او شخصي خلک تر دغه قيمت په لوړه بيه غواړي، د ۱۴۰۳ کال د چنګاښ مياشتي د يو دېرشمي نېټې څخه بيا د همدې کال د زمري مياشتي تر لسمي نېټې پوري دارزاقو عمومي مديريت دانحصاراتو شاته موقعيت لري، ورسي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمين نغداً اخيستل کېږي.

اعتبار نه لري

حقمل ساختماني او لجستيکي خدمات چي د جواز شمېره يې (D-35368) ده، رئيس شېر آغا حقمل د يار محمد زوی دئ، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

د کار موندني اعلان

د کندهار د ملي راډيو-تلويزيون په آمريت کي لاندي بستونه خالي دي.

۱- د راډيو د نشراتو مدير څلورم بست. ۲-ايډيټور ګرافيک ډيزاينر پنځم بست.

هغه محترم اشخاص چي پر شرايطو برابر وي، خبر ورکول کېږي چي د ۱۴۴۶ هـ ق کال د محرم الحرام مياشتي د نهمي نېټې څخه بيا د روان کال د همدې مياشتي تر اتلسمي نېټې پوري د نوماندۍ فورمې، د ولايت مقام د بشري سرچينو د پراختيا رياست، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو آمريت او د ملي راډيو-تلويزيون آمريت څخه ترلاسه او ترخانه پری وروسته يې، د اعلان د بشپړېدو له نېټې څخه مخکي مربوطه ادارو ته وسپاري.

قرارداد ونه کوي

د افغانستان د کرهنيزو علوموا و ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناسټو) رياست غواړي چي د ۱۴۰۳ مالي کال له پاره د قرطاسيې موادو قرارداد وکړي. ټول هغه شرکتونه چي پر شرايطو برابروي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د ۱۴۰۳/۵/۳ نېټې څخه تر ۱۴۰۳/۵/۲۷) نېټې پوري د (۲۱) کاري ورځو له پاره د ياد پوهنتون د تهيه او تدارکاتو آمريت او ولايت مقام مالي او اداري رياست ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي او آفر دي ترلاسه کړي.

دآفر د پرانيستلو غونډه د روان کال د زمري مياشتي پر ۲۸ نېټه، د يکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د ولايت مقام په مالي او اداري رياست کي تر سره کېږي.

آدرس: دوهمه عينو مېنه، ۳۷ عمومي سړک، د لمر خاته طرف ته ۴۸ فرعي سړک.

د اړيکي شمېره: 0700337412

***

د افغانستان د کرهنيزو علوموا و ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناسټو) رياست غواړي چي د ۱۴۰۳ مالي کال له پاره د (۱۰) عددو برموا و د برمو د تجهيزاتو قرارداد وکړي. ټول هغه شرکتونه چي پر شرايطو برابروي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د ۱۴۰۳/۵/۴ نېټې څخه تر ۱۴۰۳/۵/۲۸) نېټې پوري د (۲۱) کاري ورځو له پاره د ياد پوهنتون د تهيه او تدارکاتو آمريت او ولايت مقام مالي او اداري رياست ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي او آفر دي ترلاسه کړي.

دآفر د پرانيستلو غونډه د روان کال د زمري مياشتي پر ۲۹ نېټه، د دوشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د ولايت مقام په مالي او اداري رياست کي تر سره کېږي.

آدرس: دوهمه عينو مېنه، ۳۷ عمومي سړک، د لمر خاته طرف ته ۴۸ فرعي سړک.

د اړيکي شمېره: 0700337412

لسونه کورنۍ او بنديان خپل هيواد ته راستانه سول

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، چي نن ورځ ۳۸ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۲۹۲ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستنې سوي دي. د بل خبر له مخي د کندهار ولايت د سپين بولدک له لاري د ۱۲۹ تنو بنديانو ترڅنګ، ۷۱ مهاجري کورنۍ هيواد ته راستنې سوي دي.

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، نن ورځ د ۱۲۹ بنديانو تر څنګ، ۷۱ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۳۷۸ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستانه سوي دي.

له يادو کورنيو سره د اسلامي امارت اړوندو ادارو له خوا نغدي مرسته سوې او هم مرستندويه مؤسسو ته د مرستي په هدف ور وپېژندل سوي دي.

(۱) مخ پاته: **رسنۍ دي اسلامي ارزښتو ...**

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معينيت سرپرست او د باختر اطلاعاتي آژانس رئيس مولوي ضياءالحق حقمل ويلي: "لومړی بايد له هغو فعالو رسنيو سره مرسته وسي چي له اقتصادي ستونزو سره مخ دي."

د هغه په وينا، د رسنيو له پاره لازمي اسانتياوي برابري سوي او ستونزو ته يې تر ډېره حده رسېدنه سوې ده، نو رسنۍ هم مکلفي دي چي د هيواد ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو ته په کتو سره خپل فعاليت ته دوام ورکړي.

په آخر کي ياد کمېسيون ته راغلي شکايتونه او ستونزي وڅېړل سوې او د حل په موخه يې لازم تصميمونه نيول سوي دي.

(۱) مخ پاته: **په سپين بولدک ولسوالۍ...**

په سيمه کي باختر خبري آژانس ته د يادي اورلګېدني له امله د رامنځته سوي خسارې او سوځېدلو دوکانونو په اړه وويل، د کندهار والي حاجي ملا شېرين اخند له لوري چي د اورلګېدني په ورځ يې له ساحې ليدنه هم کړې وه، يوه کمېټه جوړه سوې ده، چي په دې کمېټه کي د اطفائيې عمومي رياست په ګډون، د کندهار د بېلابېلو رياستونو، د سوداګرۍ خوني او د بولدک سيمه ييز مسئولين په کښې شامل دي، تر څو د دوکانونو مالکانو او تجارانو سره غونډې وکړي او د رامنځته سوي خسارې دقيق ارکام معلوم او راټول کړي.

د هغه په وينا، د اټکل له مخي تر ۵۰۰ ډېر دوکانونه سوځېدلي او ميليونونه افغانۍ خساره لري.

د عيني شاهدانو په وينا، چي اورلګېدنه د بېټرۍ او سولر هنداري د شارټۍ له امله رامنځته سوې وه.

د بل خبر له مخي

د پېښو په وړاندي د چمتووالي او مبارزې ملي اداري رئيس سپين بولدک ولسوالۍ ته ولاړی.

ملا نورالدين ترابي د سپين بولدک ولسوالۍ د کاکړانو منډۍ د وروستۍ اورلګېدني د آرزوني او سوداګرو ته د اوښتو مالي زيانونو د څېړني په موخه کندهار ته سفر کړی دئ.

ملا نورالدين ترابي د يادي منډۍ له زيانمن سووو دوکاندارنو او سوداګرو سره په کتنه کي د هغوی ستونزي او غوښتني اورېدلي او هغوی ته يې د مرستي او همکارۍ ډاډ ورکړی دئ.

د يادولو وړ ده، چي د تېري جمعې ورځي په سهار د کاکړانو په منډۍ کي چي د موټرونو پرزې په کښې پلورل کېږي اور لګېدلی و، چي د مسئولينو د چټکو هڅو په پايله کي ماړيګر دغه شديده اورلګېدنه مهار سوې وه.

(۱) مخ پاته: **له ښاره ۹۱۲۳ متره...**

د هغه په قول، په ياده موده کي د ښاروالۍ کاري پرسونل له خوا د ښار د پاکارۍ په برخه کي د ۱۳۱ کېلو متره چرۍ او ۹۷ کېلو متره سړکونو جارو کښې هم تر سره سوې ده.

د ښاروالۍ ويا ند له ښاريانو وغوښتل، چي د خپلو کورونو کثافات په ټاکل سوو ځايونو کي واچوي، تر څو د تنظيف کارکوونکي ورته پر وخت رسېدنه وکړي.

(۱) مخ پاته: **سوونو موټر چلوونکو...**

قوانين، پر جاده د تګ اصول او ترافيکي لوحې (نښې) ور وښوول سوې، چي تر عملي او نظري آزموينو وروسته کاميابو ۲۹۹ تنو ته لېسنسونه ورکړل سول.

(۱) مخ پاته: **له زرونو کورنيو سره...**

کي د دوی کلني حقونه، د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د خاصې پېرزوينې او د يو شمېر خيريه بنسټونو له لوري سوي مرستي شاملي دي.

د شهيدانو او معلولينو چارو رئيس مولوي محمد طاهر آغا ويلي، د شهيدانو او معلولينو ۲۳ زره کورنۍ يې ثبت کړي، چي له ډلې يې ۶۹۰ د تېري اداري د وژل سوو غړو کورنۍ دي او ۲۰۲۴ تنه مجاهدين، ۱۱۴ تنه د تېر نظام عسکر او همدارنګه ۷۰۵۷ تنه بيا ملکي معلولين دي، چي د اسلامي امارت له لوري کلني حقونه او دغه راز نوري ځانګړي مرستي ور سره تر سره کېږي.

د هغه په قول، اداره يې ټولو ثبت سوو شهيدانو او معلولينو ته د حقونو رسولو په موخه سږ کال ۱۲۰۰ ميليونه افغانيو ته اړتيا لري، چي تر دې دمه ورته ۸۵۰ ميليونه افغانۍ رسېدلې، چي ډېر ژر به پاته شمېر کورنيو ته هم خپل کلني حقونه ورسوي.

پاکستان ته د ۲۷۱ پسونو د قاچاق مخه ونيول سوه

د کندهار د کرهنې او مالدارۍ رياست وياند مطيع الله سعيدي ويلي، چي په رېګستان ولسوالۍ کي هغه څلور کسان نيول سوي، چي ۲۷۱ پسونه يې په قاچاقي ډول پاکستان ته اړول.

ياد پسونه د کندهار د پسونو له يو ګنجه بېول سوي وو، چي په رېګستان ولسوالۍ کي، د کرهنې او مالدارۍ رياست مامورينو او امنيتي ځواکونو په همکارۍ نيول سوي او د قاچاق مخه يې نيول سوې ده.

د بل خبر له مخي د کرهنې رياست مطبوعاتي وياند باختر خبري آژانس ته ويلي، د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست د څارويو د روغتيا او مالدارۍ آمريت ۳۰۰ کېلو ګرامه د غوايي خرابه غوښه، په سپين بولدک ولسوالۍ کي نيولې ده.

د سعيدي په قول، ياده غوښه چي د پاکستان هيواد څخه په پارسلانو کي هيواد ته را اړول سوې وه، تر فزيکي معايناتو وروسته خرابه ثابته سوې او په يو مشخص ځای کي تر خاورو لاندي سوې ده.

ټولنيزي رسنۍ

نعمت الله "شاکر":

له بده مرغه د علمي اشخاصو او ځوانانو د وتلو پروسه لا جريان لري.

دا د يو هيواد له پاره له لويو ناورينونو څخه دي، چي ځوانان او علمي اشخاص يې د مختلفو وجوهاتو له امله هيواد پرېږدي.

مسعود "رښتين":

ځيني انسانان يوازي په دې ارځي چي ور سره مخ سئ، بس ښه سلام او کلام ورسره کوئ، نور خپل ژوند مه ور پوري تړئ، نه يې خبره پر خبره او نه يې وعده پر وعده ولاړه وي، هيلي او اميدونه مو په هر کاغذ پران پوري مه تړئ.

Nazeefullah Zaland:

که غواړئ چي د نيت بدو او حسد کوونکو له شره خوندي سئ! نو اړيکې ور سره پرې کړئ.

Mohibullah Shubair:

ژباړه: که خلک زما مخالفت وکړي، د خښم پر ځای به دقت ورته وکړم. هغه کس ته نژدې کېږم چي زما سره مخالفت کوي او ماته شی را زده کوي.

عمر "عماد":

دا خبره بايد د هر چا په ذهن کي روښانه وي چي:

ګيله د هغه چا څخه کېږي چي تمه ځني کېږي.

بناءً پر دې موږ هم د هر چا څخه دا ګيله نه کوو چي ولي د نړۍ د مسلمانانو، خصوصًا د غزې د مظلومامو په مظلوميت نه دردېږي، بلکي دا ګيله له خواصو (هغه چي مسلمانان ورته لکه د يو بدن غړي ښکاري) کوو، نور هر سړی پوه سه او د هغه ايمان او انساني احساس.

هيله ده چي هر څوک را سره ځانونه مدعي نه کړي.

Hamid Afghan:

عمر بن عبد العزيز رحمه الله ويلي: څوک چي خپل ورور ته ديني نصيحت وکړي او د دنيا په ګټه کي مرسته ور سره وکړي، يعني د دنيا او آخرت غم يې وخوري؛ نو خپلوي يې ورسره وپاللـه او پر ده چي يې څه حق لاره، هغه يې ادا کړ.

تاريخ الطبري ٦/ ٥٧٢

Mokhammad Mirza:

هر هغه شی چي قابل د سنجش وي، هغه وسنجوئ. هغه څه چي د سنجش وړ نه وي، هغه قابل د سنجش مه ګرزوئ! (ګاليله)